دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون

Islamic Republic of Afghanistan
Access to Information Commission

# اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹ کال، ۱۳ غوايي |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون دفتر، کابل، افغانستان |
| د غونډې رييس | د کمېسيون رييس او کمېشنر ښاغلی عين الدين بهادري |
| ګډونوال | د کمېسيون مرستياله او کمېشنره آغلې نجيبه مرام، کمېشنر او منشي ښاغلی حمدالله ارباب، د کمېشنره آغلې زهرا موسوي، د دارالانشا رييس ښاغلی عصمت‌الله حيدري، حقوقي سلاکار محمدحسن پويا، تخنيکي سلاکارولي‌الله مصباح، د پاليسۍ او څارنې سلاکار محمدهاشم مرشد |
| دغونډې تنظيمونکی | عصمت‌الله حيدري |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون غونډه د پورته ګډونوالو په شتون کې جوړه شوه، د مرتبه اجنډا او د ښاغلي عين الدين بهادري په خبرو پيل شوه او د کمېشنرانو لخوا په لاندې سکالو ګانو خبرې او اړينې پرېکړې وشوې:

**۱- اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون ستراتېژۍ وروستي کول:** له نېکمرغه اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون ستراتېژي چې د جي آی زيډ موسسې په تخنيکي او مالي همکارۍ تدوين شوې دا دی اوس يې متن له کمېسيون سره شريک شوی تر څو د وروستي کولو لپاره پرې بحث وشي. پر همدې اساس د ستراتېژۍ متن په غونډه کې مرور شو او د ګډونوالو بشپړ نظريات واخيستل شوه چې د ۱۳۹۹ کال د غوايي په ۱۶ نېټه به د جي آی زيډ دفتر ته د توحيد لپاره واستول شي.

**۲- د کمېشنرانو د کاري چارو کړنلارې تنظيم:** څرنګه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون مخکېنۍ غونډه کې د کمېسيون کمېشنرانو تر منځ عمومي چارو وېش باندې پرېکړه شوې و کمېشنرانو د چارو ښه تنظيم لپاره« مالي او تدارکاتي چارې د کمېسيون رييس ښاغلی عين الدين بهادري، خدماتي او د بشري سرچينو چارې د کمېسيون مرستياله آغلې نجيبه مرام، عمومي او بهرنۍ اړيکې د کمېسيون منشي ښاغلی حمدالله ارباب». ښاغلی حمدالله ارباب د يو داسې کړنلارې جوړولو غوښتونکی شو چې د کمېسيون رسمي سند په توګه د حکم او اجراتو وړ وي چې د کمېشنرانو له هرکلي سره مخ شو. د دارالانشا رييس ښاغلی عصمت الله حيدري او حقوقي سلاکار د کمېسيون لخوا وګمارل شول چې د يوې اونۍ په لړ کې د يادې کړنلارې مسوده ترتيب او د طي مراحل کولو لپاره يې د ۱۳۹۹ کال د غوايي تر ۱۸ نېټې کمېشنرانو ته واستوي.

**۳- د کلني کاري پلان پلي کولو څرنګوالی:** څرنګه چې مالي کال هم نږدې نيماي ته رسېدلی او له بل لورې د کورنا ويروس خپراوي له وجې په خراب حالت کې يوو ځکه نو کمېشنران ټينګار کوي چې موږ بايد ډېر کوښښ وکړو چې د مالي کال تر پايه کافي بودجه مصرف کړو او د تشکيل د تعديل زمينه مساعده کړو. هغوی

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.aic.gov.af | info@aic.gov.af | ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

زیاته کړه د فعالیتونو پلي کولو لپاره کېدای شي د پروګرامونو پلي کولو طریقه بدله کړو او د شته شرایطو او امکاناتو په پام کې نیولو د پروګرامونه پلي کولو ته اقدام وکړو.

**۴-کمېسیون لپاره نوی تعمیر:** ښاغلي حمدالله ارباب یادونه وکړه چې هغه د کورنیو چارو وزارت د عامه ساتنې ریاست سره د کمېسیون لپاره د یوه مناسب تعمیر په اړه خبرې کړي او په یاد ریاست پورې اړوند یو تعمیر یې (په نوي ښار کې) پیدا کړی چې کمېسیون لپاره ګوندې مناسب ځای وي. د دوی لومړنیو خبرو ته په کتو یاد ریاست تیار دی چې دا تعمیر د قانوني مراحلو څخه وروسته اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون ته وسپاري. ځکه نو ښاغلي عین الدین بهادري او ښاغلي حمدالله ارباب به د ۱۳۹۹ کال د غوایي په ۱۵ له یاد تعمیر څخه لیدنه وکړي تر څو اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د دفتر لېږدولو په پار یې و څېړي.

**۵- اطلاعاتو د لاسرسي انلاین سیستم:** له نېکمرغه اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د افغانستان روڼتیا څار ادارې په مرسته اطلاعاتو ته د لاسرسي انلاین سیستم تنظیم او د ګټې اخیستنې لپاره چمتو کړ. خو دی ته په کتو چې ځینې وخت سیستم د لاسرسي وړ نه وي او د هغه «هاستنګ» ستونزه لري. ځکه نو ښاغلي عین الدین بهادري وویل د افغانستان روڼتیا څار ادارې سره به دا موضوع وڅېړي. سربېره پر دې تخنیکي سلاکار ښاغلي ولي الله مصباح او د معلوماتي تکنالوژۍ مسوول نجیب الله حقیار ته دنده ورکړل شو چې د یاد سیستم ګټې اخیستنې لارښود په پښتو، دري او انګلیسي ژبو باندې چمتو کړي او د ۱۳۹۹ کال د غوایي ۱۸ پورې یې له کمېشنرانو سره شریک کړي.

**۶- د کمېسیون د پرېکړو پلي کول:** کمېشنرانو وویل؛ څرنګه چې کمېسیون کوښښ کوي ترڅو اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره د قانون له لارې زمینه برابره کړي خو له بده مرغه ځینې ادارې دکمېسیون پرېکړې په پام کې نه نیسي او د اطلاعات غوښتونکو غوښتونو ته د ځواب نه ورکولو ته ادامه ورکوي.

ځکه نو د کمېسیون غړو په دې برخه کې لاندې پرېکړې وکړې؛

- کمېسیون،اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د احکامو پلي کولو او اطلاعاتو ته د وګړو لاسرسي لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د مندرجو تأدیبي موییدات د سرغړونکو بنسټونو پر وړاندې پلي کوي.
- د سرغړونکو بنسټونو پر وړاندې له پرېکړې وروسته، د پرېکړې یو نقل د کمېسیون پر فیسبوک پاڼه او یوه کاپي به یې د کمېسیون پر انټرنټي پاڼه خپرېږي.
- د ادارو د سرغړونې تکرار په صورت کې، کمېسیون سکالو د وړاندیز په توګه د کابینې غونډې، د قانون حاکمیت شورا او فساد پر وړاندې مبارزې ادارې ته استوي.
- سربېره پر دې، د اړتیا په صورت کې به د سرغړونکو ادارو لړلیک له نړیوالو بنسټونو، رسنیو او مدني ټولنې سره د بشپړ تأدیب لپاره شریک شي.

**۷- سفارت خونو او دولتي ادارو ته د دارالانشا رییس ورپېژندنه:** د کمېسیون عمومي او بهرنیو اړیکو مسوول ښاغلي حمدالله ارباب، سفارت خونو او دولتي ادارو ته د دارالانشا رییس ورپېژندنه باندې ټینګار وکړ تر څو له دې وروسته د کمېسیون اړیکې د دارالانشا لخوا تامین شي. ځکه نو تخنیکي سلاکار ته دنده ورکړل شو تر څو د ۱۳۹۹ کال د غوایي تر ۱۸ پورې د پورته ټولو ادارو پرېښنا لیکونه ترتیب او ښاغلي ارباب ته یې واستوي او

ښاغلي ارباب د دارالانشا رییس د ۱۳۹۹کال د غوايي تر ۲۵ د بریښنالیکونو له لارې ادارو ته ور وپیژني. همدارنگه ښاغلي بهادري وویل چې د دارالانشا رییس «پیژند لیک» د ۱۳۹۹کال د غوایي تر ۲۵پورې پر فیسبوک پاڼه هم خپور شي.

**۸- د کارکونکو د شتمنئ ثبت:** څرنگه چې روڼتیا اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون لپاره یو اصل دی، ځکه نو د دولتي لوړ پوړو مقاماتو قانون مندرجاتو پر بنسټ د دې کمېسیون کارکونکي هم باید د شتمنئ ثبت فورمه ډکه او اړوندو بنسټونه ته یې واستوي. د دې فورمې د ښه ډکولو او څرنگوالي په اړه د لا وضاحت لپاره ښاغلي ولي الله مصباح ته دنده ورکړل شوه چې په مناسب وخت کې د چارو ادارې ته مراجعه وکړي او په دې اړه اړین معلومات تر لاسه کړي.

**۹- د جینوا دوه اړخیزو حساب ورکړې کاري چارچوب لپاره د کمېسیون نوې ژمنې:** د کمېسیون غړو په دې اړه بحث وکړ چې د کمېسیون له لوري کوم موارد کولای شي د نویو ژمنو په توگه ارایه کړي. ځکه یې نو د کمېسیون دارالانشا رییس ته دنده ورکړه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي ستراتیژي باندې مرور وکړي او ځینې موارد نوټ کړي او د ورستي کولو لپاره د ۱۳۹۹کال د غوايي تر ۱۶ پورې یې کمېشنرانو ته واستوي. او له هغه وروسته به یې مالیه وزارت ته ولیږي.

**۱۰- د دارالانشا ریاست څخه د ارقامو او امارو غوښتنه:** ښاغلي عین الدین بهادري یادونه وکړه چې له بده مرغه وړاندې د چارو په اړه ارقام او امار متفاوت ارایه شوي چې د ادارې حیثیت ته ضرر لري. هغه ټینگار وکړ چې له دې وروسته د دارالانشا ریاست له ادرس څخه ټول ارقام او امار دې ارایه شي تر څو د متفاوتو ارقامو او امارو څخه مخنیوی وشي.

**۱۱- د کمېسیون د کړنلارو ټولپوښتنې کمېټه:** ښاغلي عصمت الله حیدري وړاندیز وکړ چې د لا همغږۍ لپاره اطلاعاتو ته د لاسرسي په کمېسیون کې د کړنلارو یوه کمېټه جوړه شي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون او شته کړنلارو په مرور سره دا تشخیص کړو چې په کوم تعداد او کوم ماهیت کړنلارو ته اړتیا لرو او بیا وروسته له اړتیا سره سم کړنلارې تدوین او تصویب کړو. ځکه نو ښاغلي عصمت الله حیدري، محمد حسن پویا، عبدالخلیل جیحون، ولي الله مصباح ته دنده ورکړل شو تر څو نیازسنجي تر سره کړي او د ۱۳۹۹کال د غوایي په ۳۰ پورې کمېسیون ته راپور ورکړي.

**۱۲- اطلاعاتو ته د لاسرسي لاربنود د تدوین کمېټه:** ښاغلي عصمت الله حیدري وړاندیز وکړ چې اطلاعاتو ته د لاسرسي حق په اړه د پوهاوي پروگرامونو او ظرفیت جوړونې لا غني کېدو لپاره اړتیا ده چې یو ښکاره او ټولیز لاربنود تدوین او چاپ کړو تر څو وکولای شي اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د یو مهم ښوونیز او لاربنودي سرچینې په توگه وکڼل شي. ځکه نو د عامه پوهاوي امر ښاغلي عبدالخلیل جیحون، حقوقي سلاکار ښاغلي محمد حسن پویا، تخنیکي سلاکار ښاغلي ولي الله مصباح او د پالیسۍ سلاکار داکتر محمدهاشم مرشد ته دنده ورکړل شوه تر څو د ټولو لیکنو په لوستلو سره یو ښوونیز لاربنود جوړ کړي او د ۱۳۹۹کال د جوزا په ۳۰ د دارالانشا ریاست ته وسپاري.

**۱۳- د تشکیل د تعدیل او څېړلو کمېټه:** اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د کاري اړتیا او تشکیلاتي کمیو پر بنسټ د تشکیل تنظیم لپاره کمېټه وړاندیز کړه ترڅو تشکیل برسي او وڅېړي او خپل وړاندیز کمېسیون ته ارایه کړي. په همدې اساس آغلې نجیبې مرام، عصمت الله حیدري او سید اسماعیل دانش ته دنده ورکړل شوه تر څو پورتنی دنده ترسره او د ۱۳۹۹کال د جوزا تر۱۶ نېټې پورې راپور کمېسیون ته وړاندې کړي.

**۱۴- رخصتي او بدیل کارکونکي:** له بده مرغه چې وړاندې له دې د رخصتیو تنظیم او د چارو پر مخ وړلو ته د بدیل کارکونکي ورپېژندلو لپاره یو ښه میکانیزم نه و او دا کړنه د دې لامل وه چې ډېر کارونه وروسته پاتې شي نو پر همدې اساس دې د رخصتی یو فورم جوړ شي چې هم د رخصتی تنظیمونکی وي او هم بدیل کارکونکی او پاتې چارې بیان کړي تر څو بدیل کس اړینې چارې وپېژني او تر سره یې کړي. دا فورم به د ۱۳۹۹کال د غوایي تر ۱۸ پورې کمېشنرانو ته د وروستي کولو لپاره واستول شي.

**۱۵- په سندونو او مکتوبونو کې د ژبو توازن تامینول:** اطلاعاتو ته د ټولو وګړو لاسرسی حق دی څکه نو دې باید ټول سندونه پښتو او دري ژبو ته وژباړل شي او د ادارو تر منځ د دا مسله د مکتوبونو له لارې تامین شي. څکه نو له دارالانشا ریاست څخه غوښتنه وشوه چې په دې برخه کې لازم ګامونه واخلي.

**۱۶- د کمېسیون دارالانشا لپاره د یو موټر کرایه نیول:** د کمېسیون کمېشنرانو موافقه وکړه چې په اړوندو چارو کې د اسانتیا لپاره په دې بحراني او کرونایي شرایطو کې د دارالانشا رییس د تګ او راتګ لپاره یو ځانګړی موټر په کرایه ونیسي.

درنښت

د کمېسیون رییس عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله نجیبه مرام

د کمېسیون منشي حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي